DAILY
ارادہ
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش
سال پنجم شماره ۲۰۸
شماره مسلسل ۸۳۴
دوشنبه ۷ سنبله ۱۳۸۴ هـ ش
۲۴ رجب المرجب ۱۴۲۶ هـ ق
29 August, 2005

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

صدراعظم هند در کابل

من موهن سنگهه صدراعظم هند دیروز (یکشنبه) وارد کابل شد.

سفر دو روزه آقای سنگهه به کابل بر اساس دعوت رسمی حامد کرزی رئیس جمهور کشور صورت گرفته است.

این نخستین بار ظرف حدود ۲۹ سال گذشته است که یک مقام عالی رتبه هندی در سطح صدراعظم وارد افغانستان شده است.

دولت هند روز جمعه (۲۶ آگست) اعلام کرد که آقای سنگهه در این سفر کمک پنجاه میلیون دالری کشورش به افغانستان را به همراه دارد و برعلاوه تلاش خواهد کرد مناسبات دو جانبه میان هند و افغانستان را بیش از پیش تقویت کند.

در اعلامیه ای که به همین مناسبت از سوی دفتر ریاست جمهوری منتشر شده آمده است که مقامات دو کشور هند و افغانستان در کابل موافقت نامه های را در زمینه گسترش همکاری های صحی و علوم طبی زراعت و حمایت از پروژه های کوچک انکشافی امضا خواهند کرد.

ص۴

یک کاندید ولسی جرگه به قتل رسید

مقامات ولایت ارزگان میگویند که یک کاندید ولسی جرگه به تاریخ پنجم سنبله طی یک حمله مسلحانه در نزدیکی شهر ترینکوت مرکز این ولایت به قتل رسید.

جان محمد خان والی ارزگان گفته است که حاجی عتیق الله کاندید ولسی جرگه روزگذشته از طرف جنگجویان طالب طی یک حمله در نزدیکی مرکز ولایت به قتل رسید.

مسؤولین دفتر مشترک تنظیم انتخابات پارلمانی نیز از قتل کاندید مذکور خبر داده اند.

سلطان احمد بهین سخنگوی این دفتر به آژانس خبری پژواک گفته است که قتل یک کاندید ولسی جرگه را تایید مینماید اما تحقیقات در این مورد ادامه دارد.به گفته وی جزئیات بیشتربعدا آشکار خواهد گردید.

ص۴

دري بهرني مرستندويه سرتيري تپيان شول

په کابل کې د امریکا په مشرۍ د ایتلافي ځواکونو دري تنه بهرني مرستندويه سرتيري تيره ورځ د نامعلومو وسله والو کسانو لخوا د يووه برید په نتيجه کې تپيان شول د امریکا په مشرۍ د ایتلافي ځواکونو له خوا په يوې خپرې شوې خبر پاڼې کې راغلي چې دغه پېښه د کابل په ۴۰ کيلومترۍ کې ختيځ لور ته رامنځ ته شوې ده په خبرپاڼه کې د پېښې په اړه نور معلومات نه دي راغلي خو ويل شوي دي چې برید کوونکي د ایتلافي ځواکونو په دغه کاروان باندې د برید کولو وروسته په تېښته بريالي شوي دي

بلخوا په کابل کې د ناټو په مشرۍ سوله ساتو ځواکونو تېره ورځ د ده سبز په ولسوالۍ کې د ۱۰۷ ملي متري راکټ ۱۲۰ مرمۍ لاس ته راوړې دي

۴مخ

پاکستان له افغانستان سره د هند سوداګریزه لاره دکشمیر د لانجې ترحل پورې وترله

پاکستان وایي چې ترڅو هند له پاکستان سره دکشمیر ستونزه هواره نه کړي افغانستان ته دهندي مالونو وړلو ته به ترانزیتي اسانتیاوې برابرې نکړي

د پاکستان صدر اعظم شوکت عزیز د پنجاب ایالت لاهور ښار کې د اګست په ۲۷ مه یوې مطبوعاتي غونډې ته د وینا پرمهال وویل چې د هند دا تور بې اساسه دی چې ګوندې پاکستان د هند او افغانستان ترمنځ اقتصادي او سوداګریزو اړیکو کې خنډ کېږي ده زیاته کړه « پاکستان د افغانستان او هند ترمنځ سوداګریزو اړیکو کې خنډ نه دی خو که هند وغواړي چې له افغانستان سره دسوداګریزو او اقتصادي اړیکو لپاره د پاکستان لار وکاروي نو دا ترهغې امکان نه لري چې هند سره د کشمیر د شخړې په هواري کې پرمختګ نه وي شوي »

په داسې حال کې چې د وړې په ۴ مه د هندوستان دبهرنیو چارو دوزارت سکرتر شیام سرن یو خبري کنفرانس ته د وینا پر مهال ویلي وو چې د افغانستان په بیا ودانۍ کې دهندوستان دونډې اخبستلو پروړاندې لوی خنډ له افغانستان څخه لرې والي او سرحدي پوله نه لرل دي

۴مخ

سرمقاله

کمکهای دولت هند، علایق دوکشور را تحکیم می بخشد

طی سه سال ونیم ، کشورهای گوناگون وعده های کمک برای بازسازی افغانستان داده اند. اما کشور هند یکی از همان کشورهاییست که واقعاً دربازسازی افغانستان ودرعرصه های گوناگون کمکهایی را عرضه کرده است که هنوز هم ادامه دارد.

روابط دوستانه وعنعنوی افغانستان وهندوستان که درمنطقه ازاهمیت فراوان سیاسی واقتصادی بهره مند است، نمونه بهترین روابط متقابلاً مفید ودوستانه بوده و طی دهه های متمادی ازآزمون زمان به خوبی بدرآمده است .

بادرنظرداشت ستراتیژیهای که مسایل ورخدادهای منطقوی بخصوص افغانستان را زنگ میزند وبرآن سایه می افکند نزدیکی وهمکاریهای دوکشور افغانستان وهندوستان اثرات موثر و سودمندی را به بارمی آورد.

مسافرت صدراعظم هند آقای من موهن سنگهه در زمان موجود، ازنزدیکی روز افزون واهمیت بزرگ پیوندهای طرفین حکایت میکند، کمکهای بزرگ وقابل توجه هند دربازسازی افغانستان مظهر علایق وحسن نیت طرفین برای نزدیکی وتفاهم بیشتر درحل مسایل منطقوی، ترقی و پیشرفت ورشد دموکراسی درکشور، میتواند مقیاس ومعیار خوبی وقابل توجه باشد.

سفرصدراعظم یک کشور پاسدار بزرگ دموکراسی وکمکهای گستردهء آن به مردم افغانستان میتواند عرصه های همکاری را بیش ازپیش انکشاف بدهد وعلایق مردمان دوکشور را مستحکم تر سازد.

توقع میرود که دولت افغانستان بتواند با واقعبینی سیاسی، از کمکها و علایق بی شائبهء کشور دوست هند، حد اعظم استفاده را بنماید.

قتل سه تن دردرګیری بالای زمین

در اثر منازعه میان دو خانواده بالای زمین در ۱۵ کیلومتری (مهترلام) مرکز ولایت لغمان سه تن کشته و ۱۸ تن دیگر مجروح شدند.

این درګیری درحال حاضر کاهش یافته ویک تعداد افراد درګیر از هردو طرف ازسوی نیروهای امنیتی بازداشت گردیده اند.

ص۴

بنګړیوالانې وایي چې مېړونه یې ددوی ګټو ته ناست دي

په ننګرهار ولایت کې مېشتې بنګړیوالانې سر ټکوي چې له ژونده بېزاره دي مېړونه یې ددوي ګټو ته لاس تر زنې ناست دی او د ژوند ټولې ورځنۍ چارې ددوی په غاړه دي

۴مخ

دلښتي په سر شخړې ددرې تنو سر وخوړ

د ننګرهار ولایت د رودات ولسوالۍ د باندې په سیمه کې تیره شپه دلښتي په سر شخړه کې درې تنه وژل شول دسیمې داوسیدونکو په وینا ظفر خان او قباد چې تره او وراره کیږي ترمنځ یې دلښتي په سر شخړه روانه وه چې ظفر خان دغه دوسیه په مرافعې محکمې او څارنوالۍ کې هم ګټلې وه

۴مخ

اختلاف در هرات یک کشته ویک زخمی به جا گذاشت

موجودیت سلاح در نزد افراد غیر مسؤول باعث کُشته شدن یکتن و جراحت یک تن دیگر درولسوالی ادرسکن ولایت هرات گردید.سمونوال نثاراحمد پیکار مدیرمبارزه با جرایم جنایی قوماندانی امنیه ولایت هرات گفت که گل احمد ۶۵ ساله بخاطراختلافات فامیلی با فیر کلاشنکوف دامادش را به قتل رسانده وهمسر خود را مجروح ساخت .

ص۴

زوم او څلور تنه نور وسوځېدل

دکونړ ولایت دنورګل ولسوالۍ دمزار دري په سیمه کې دواده په مراسمو کې زوم او څلور نور کسان هغه مهال وسوځېدل کله چې دوي په لرګیو پټرول اچول دکونړ ولایت امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالغفار پژواک خبري آژانس ته ویلي چې سوځېدلي کسان یې دننګرهار ولایت امنیه قوماندان دعامې روغتیا روغتون ته لېږدولي دي

۴مخ

تورید وفروش قالینهای ایرانی، کاهش یافته است

مسوؤلین اتحادیه قالین فروشان (قالین ماشینی ایران) درهرات می گویند که واردات وفروش این نوع قالین در کشور طی سال جاری بیش ازده برابر نسبت به سال قبل کاهش یافته است.

حاجی دین محمد زرمتی وکیل اتحادیه قالین فروشان درهرات گفت که این اتحادیه درسال گذشته ماهانه بیش از ۲۴ هزارتخته قالین ایرانی به هرات وارد می کرد ولی این رقم درسال جاری به کمتراز ۲هزار تخته قالین درماه رسید ه است .

وی علت کاهش واردات قالین ماشینی (غیر دستی) را پایین آمدن کیفیت قالین ایرانی و نبود مشتری عنوان نموده وگفت که به همین علت عده ای از تاجران وارد کننده قالین مصروف فعالیت های انتخاباتی ویا سرمایه گذاری در دیگر امور تجارتی شده اند .

ص۴

د ملي سرود طرحه د کره کتنې په رنا کې

کره کتونکې: پوهندوی یارمحمد "یزال" د کابل پوهنتون استاد

ګرانو لوستونکو! دغه نظم چې د ملي سرود د تاکل کیدنې په موخه، په مطبوعاتو کې د نظر غوښتنې په غرض خپور شوی دی، یو ښه نظم او سرود دی خو باید عرض شي چې د یوه هیواد د ملي سرود په توګه، دغه مطرح شوی شعر یوازې لفظي، فکري، ګرامري عروضي او هنري نیمګړتیاوې لري.

ځرنګه چې ملي سرود د ټول ملت ویاړ دی نو ما په دې کتنه کې زیار ویوست تر څو ددې نظم هغه مسرې، بیتونه او لفظونه چې ښکلي او ملي دي، په خپل اصلي لیکلې بڼه ولیکم او هغه مسرې، بیتونه او ترکیبونه چې فکر او پیغام یې ملي او منطقي نه دی، لرې کړم او په مقابل کې یې مناسب لفظونه، او بیتونه برابر او ونج کړم، د بیلګې په توګه د لومړي بیت په لومړي مسره کې د (دا وطن) د ترکیب پر ځای مې د (ګران وطن) ترکیب ځکه راوړی دی چې له یوې خوا د تکرار مخه ونیول شي او له بلې خوا له هیواد څخه بهر په کوم بل هیواد کې هم خپل وطن وښیي نه بل وطن.

د ځلورم بیت په لومړي مسره کې د (پښتون) لفظ مفرد راغلی دی او د پښتون قوم څخه نمایندګی نه شي کولی؛ ما دغه لفظ په (پښتنو) اړولی دی، تر څو د ټولو پښتنو او پښتون قوم څخه بڼه نمایندګی وکړی شي.

اوم او اتم بیتونه چې یو له بل سره فکري ترون او پیوند هم لري، نو ځرنګه چې اتم بیت کې ځای شوي فکر او پیغام منطقي نه دی نو د اوم بیت فکر او پیغام یې هم باطل کړی دی. په دې ډول چې شاعر لومړی خپل هیواد له لمر سره ورته کړی دی او بیا یې یوازې د آسیا په وچه کې جاویدان غوښتی دی او هم یې دغه تلوالی او جاویدانی حالت بیا د زړه سره تشبیه کړی دی، حال دا چې زړه هیڅکله هم تلپاتې او جاویدان نه وي، البته له شاعر سره به په خپل ذهن کې، ممکن کومه پټه، تته او رومانې مانا وي، خو جوته او ښکاره مانا یې هم دغه نه چې سمه او منطقي نه ده.

همدارنګه په نهم بیت کې هم فکري او فزیکي عدول موجود دی. لومړی مسره یې یو خو په نحوي لحاظ یوه واضحه او فصیحه جمله نه ده او دا دغسې مثال لري، لکه چې: (کابل د افغانستان پایتخت دی) پرځای وویل شي: د کابل نوم د افغانستان پایتخت دی) او بل په عقیدوی لحاظ دا یوه معقوله څرګندونه نه ده. همدا ډول د همدې بیت په وروستۍ مسره کې هم دغه د (وایو) لفظ هسې اضافي راغلی دی او د جملې فصاحت او بلاغت ته یې زیان رسولی دی او دا داسې مثال لري لکه: (ګل ښایسته دی) پرځای وویل شي (وایو ګل ښایسته دی) د یواو لفظ په یوه جمله کې د تاکید لپاره راغلي او یا په کوم بل خانګړي حالت کې استعمالیږي، نه په عادي حالت کې په همدې ډول د همدې نهم بیت په وروستۍ مسره کې د (الله اکبر) ترکیب دوه ځلې راغلی دی، چې وزن یې وران کړی دی او له اوه اته سیلابونو څخه یې وزن آن څوار لسو سیلابونو ته رسولی دی.

دغه ډول د نظم په منځ کې یې د مضاف او مضاف الیه تر منځ ګرامري اړیکې هم له مینځه تللي دي. فاقیه آهنګ او وزن یې کمزوی دی، ځکه خو ټول نظم د یوه مړ شعار غوندې ښکاري مګر ما تر خپل وس کوښښ کړی دی چې وزن آهنګ او لازمې قافیې یې ورجوړې کړی د همدې ترکیبونو په ادلون بدلون، د قافیو په جوړلو او د اته څپې ییز ثابت وزن په ساتلو سره. نظم وزن او آهنګ مونږ دلی او په دې توګه یې هنري ارزښت هم څه نا څه ځرګند شوی دی.

په پای کې باید ووایم چې د نومورې نظم دغه کره شوې بڼه، د همدې مطرح شوي ملي سرود په بنسټ او بنیاد جوړه شوې او لیکل شوې ده او مازې د ملي مصلحت له مخې یې ځینې نیمګړتیاوې ور سمې شوې دي.

زما هیله او هدف دادی چې واقعاً یو ملي، مطلقي او په ترنم برابر ملي سرود تر لاسه شي. او محترم کمیسیون هر څخه ژر او عاجل دغه ترتیب شوې او انشاء الله کره شوې بڼه چې د هماغه مطرح شوي نظم جوړونه ده. تصویب کړي او نور قانوني اړین پراوونه یې هم په پرله پسې ډول سرته ورسوي، تر څو د خلکو دغه اوږد ځار او انتظار پای ته ورسي.

کره شوی مطرح ملي سرود:

ګران وطن افغانستان دی
دا غزت د هر افغان دی
کور د سولې، کور د توري
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو، براهویانو،
د ازبکو، هزاره وو
د ترکمنو، تاجکانو
پښتنو، نورستانیو
د ګوجرو، عربانو
دایماقو، قزلباشو
پشه یانو، پامیریانو
دا هیواد به کړو سر لوړی
دا مو ژمنه او پیمان دی
په سرو وینو به یې ساتو
ترینه ځار مو روح او ځان دی
چې فاتح مو پرې لښکر دی
غږ د الله اکبر دی
غږ د الله اکبر دی

میراث ارتش سرخ شوروی در افغانستان



آن دسته از سربازان ارتش سرخ شوروی سابق که در افغانستان جنگیده اند به مجاهدین افغان یعنی دشمن سرسخت خود لقب "دوخی" را داده بودند که در زبان روسی به معنی "ارواح" است. ولی هنگامی که در فبروری ۱۹۸۹ آخرین تانک شوروی از رودخانه آمو عبور کرد و به شوروی بازگشت، سربازان روسی نیز، ارواح خودشان را در افغانستان باقی گذاشتند.

در بلندی های شمال کشور هنوز مردانی با پوست رنگ پریده دیده می شوند که با هم به زبان روسی حرف می زنند.

تا سال ۱۹۸۱ نصرت الله یک سرباز ارتش سرخ بود که نیکلای خوانده می شد. او و دو روس دیگر که اکنون رحمت الله و امین الله نامیده می شوند تنها سرباز زنده باقی مانده، از پنج سرباز روسی اند که گفته می شود پس از دستگیری به دین اسلام گرویده بودند.

این عده پس از مسلمان شدن در کنار مجاهدین یعنی دشمنان سابق خود به جنگ با سربازان شوروی پرداختند.

سرنوشت محتوم ماجراجوئی های شوروی در افغانستان غالباً با سرنوشت امریکا در جنگ ویتنام مقایسه می شود.

روسیه می گوید در فاصله سالهای ۱۹۷۹ تا ۱۹۸۹ قریب به ۱۳ هزار سربازروس کشته شدند.

نزدیک به یک میلیون و ۳۰۰ هزار افغان که عمدتاً غیرنظامی بودند در این درگیری ها جان خود را از دست دادند.

نصرت الله خان که اکنون ۴۵ سال دارد به عنوان یک مامور پولیس افغان ماهانه معادل ۸۰ دالر حقوق می گیرد. قبل از گرویدن به دین اسلام به عنوان یک افسر قطعه پراشوت شوروی خدمت می کرد.

او با ترغیب همقطاران سابق مجاهد خود، که هنوز احساس نزدیکی به آنان می کند حاضر به گفتگو شد.

صوفی پیدا محمد، قوماندان سابق او که ریش سپیدی دارد می گوید آنها نصرت الله خان را درسال ۱۹۸۱ در جریان حمله غافلگیرانه به روستای کالیگای، دستگیر کردند.

در آنموقع مجاهدین تحت قوماندہ پیدا محمد در دره های ولایت بغلان در طول جاده تدارکاتی از مرز ازبکستان به کابل سرگرم عملیات بودند.

پیدا محمد می گوید که در جریان این عملیات، آنها نزدیک به ۲۰ سرباز روس را کشتند و نیکلای، تنها سرباز روسی بود که پس از آنکه مهماتش تمام شد دستگیر شد.

مردم محلی می گویند که مقامات سفارت روسیه سال گذشته به این منطقه بازگشته و برای یافتن محل دفن سربازان گمشده روس پاداش نقدی می دادند و به این ترتیب توانستند محل دفن شش سرباز روس را پیدا کنند.

اما خود نصرت الله داستان متفاوتی را درباره گرفتار شدنش به دست مجاهدین نقل می کند و می گوید: "آنچه را که اتفاق می افتاد خلاف قانون می دانستم."

نصرت الله اضافه می کند که مشاهده این جریانات تا آن حد او را ناراحت کرد که قطعه خود را ترک کرد.

معمولاً اسرا را هر دوطرف به قتل می رساندند ولی نیکلای را روستاییان پیدا کرده و از او مراقبت کردند و بعد او را تحویل مجاهدین دادند.

نصرت الله می گوید یک سال پس از آن بود که تصمیم گرفت مسلمان شود.

ولی کسانی که او را دستگیر کرده بودند این اظهارات را تکذیب کرده و می گویند تمام کسانی که مسلمان شدند یا از روی اجبار بوده و یا ترس.

همقطاران سابق نصرت الله می گویند چند سرباز روسی که به دین اسلام گرویده بودند جنگجویان شریفی بودند و بخصوص برای گوش دادن به رادیوی شوروی مفید بودند.

این سربازان در حضور یک روحانی مسلمان شده و نام تازه ای اختیار کرده بودند.

نصرت الله می گوید که در سال ۱۹۶۰ در شهر خارکف در اوکراین متولد شده است. پدر وی نیز سرباز ارتش سرخ بوده است. او شخصاً داوطلب خدمت در افغانستان شده و قبل از اسارتش سه ماه خدمت کرده بود.

در سال ۱۹۸۸ مسکو تمام اسرای جنگی خود در افغانستان را اعم از این که مرتکب چه اعمالی شده بودند مشمول عفو قرار داد. اما هیچ کدام از سربازانی که به دین اسلام گرویده بودند این از این بخشودگی استفاده نکردند اگر چه همه آنها پس از جنگ برای دیدن خویشاوندان خود به کشورشان سفر کرده اند.

صوفی محمد می گوید آنها خود را مانند کبوتری در میان کلاغ های سیاه می دیدند و چون خانواده هایشان اعتقادات مذهبی ندارند آنها را درک نمی کردند.

هنگامی که نصرت الله در سال ۱۹۹۶ به اوکراین رفت با چند همقطار سابق خود ملاقات کرد. او می گوید وقتی که دید آنها او را به خاطر تغییر مذهب یا پیوستن به مجاهدین ملامت نمی کنند خیلی احساس راحتی کرد.

مانند بسیاری از سربازان جنگ ویتنام، سربازان ارتش سرخ نیز از پشیمانی و نومیدی رنج می برند.

در ماه جون گذشته قریب به ۱۵۰ هزار اوکراینی که در افغانستان جنگیده بودند در یک تظاهرات جمعی شرکت کردند. بسیاری از این سربازان سابق با حقوق تقاعد دولتی معادل ماهانه ۴۰ دالر زندگی می کنند.

نصرت الله می گوید: "روسیه و افغانستان تفاوت زیادی باهم ندارند. من اینجا زندگی خوبی دارم اگر چه وضع اقتصادی چندان خوب نیست."

در دوره طالبان، وضعیت نصرت الله و دو همقطار روس او که مسلمان شده بودند مورد توجه ملا عمر رهبر طالبان قرار گرفت و اوبرای آنان خانه و امکانات کسب و کار را فراهم آورد.

هر سه نفر همسر افغان اختیار کرده اند و نصرت الله سه سال قبل صاحب یک دختر شد.

ولی پس از سقوط طالبان در سال ۲۰۰۱ دولت خانه های آنان را پس گرفت و در حال حاضر هیچ کدام آنان وضع مرفهی ندارند.

نصرت الله می گوید مادام که او از حمایت مجاهدین یعنی همقطاران گذشته خود و نیز اعتقادات دینی اش برخوردار است هرگز افغانستان را ترک نخواهد کرد.

بی بی سی ـ انترنت





زندگی در هنر

متصدی صفحه :زحل

نغمه وايي چې د امنيت له نبه کېدو سره به افغانستان ته راشي

نغمه چې اصلي نوم يې شاپيرۍ ده د ۱۳۴۲ کال د مرغومي دمياشتې په ۱۰ مه نېټه، دجنوري لومړۍ ۱۹۶۴، په کندهار ښار کې زيږېدلې ده نغمه دافغانستان يوائينې مېرمن ده چې د نړۍ په زياتو هيوادونو کې پېژندل شوې او تر دا مهاله يې تر ۲۵۰۰ څخه زياتې سندرې په خپل خوږ غږ کې خوندي کړې دي نومورې له وړوکتوب څخه له سندرو ويلو سره مينه لرله دنومورې په وينا . په پيل کې د خپلې کورنۍ لخوا ورته ستونزې راولاړې شوې وې چې بيا وروسته کابل ته راغله او د ملي تلويزيون او راډيو له لارې يې سندرو ويل پيل کړل

دګورنيو جنګونو پر مهال شاپيرۍ (نغمه) پاکستان ته ولاړه او هلته يې دخپلې خوښې سندرې وويلې او له پاکستان څخه يې بيا دامريکا او اروپا ګڼو نورو هيوادونو کې هم کنسرټونه ترسره کړل

نغمه په اوسنيو شرايطو کې افغانستان ته تګ نه غواړي ځکه چې ددې په وينا . په افغانستان کې امنيتي وضعه نه نه ده نومورې ژمنه کړې چې دحالاتو له نبه کېدو سره به تر تولو وراندې افغانستان نه وروسته نغمې د پاکستان په اسلام آباد ښار کې د پېژواک اژانس له خبريال سره مرکه کړې چې لوستونکو ته په لاندې ډول وړاندې کېږي

پوښتنه: له څه مودې راهيسې مو هنري فعاليتونه کم شوي دي ،زړه مو تړې مور شوی که څنګه؟

نغمه - نه داسې نه ده. دا مهال زه په امريکا کې له خپلو بچيانو سره ژوند کوم او پاکستان ته کله نا کله راځم داسې په دوو کلو کې چېرته راشم په دې غرض چې دلته خپل له مورګۍ وګورم د خپلو خپلوانو. دوستانو او مينه والو سره وګورم نو دلته بيا راته دا زمينه مساعده شي چې لږ څه کار د هنر په برخه کې هم وکړم . ولې حقيقت دادی چې زه خپله دا نه غواړم چې ډېرې پېټي (کېسټې) دې ډکې کړم . دې کار سره د فن . هنر او دهنرمند دواړو قدر له منځه ځي او بيا هغه د چا خبره «چې ډېر شي نو ګنډېر شي» هو داسې ده چې د ډېرو په څای زه دا کوښښ کوم چې کمې سندرې ووايم خو ښې يې ووايم داسې چې د خلکو خوښې شي او يادې يې پاتې شي بله دا هم ده چې مور ډېر کار وکړ اوس مو نوټيو هنرمندانو ته چانس ورکړی

پوښتنه - افغانستان کې خلک ستاسو اورېدو ته ډېر ليواله دي او بيا يوه لړۍ هم پيل شوې ده چې نه يوائې د فرهاد دريا او وحيد قاسمي غوندې افغان هنرمندان په کابل کې کنسرټونه ورکوي بلکې د سونو نيګم غوندې بهرنی هنرمند هم افغانستان ته راځي او پروګرامونه کوي تاسې په داسې حال کې افغانستان ته دراتللو اراده لرئ او که نه ؟

نغمه - دا زما يوه آرزو او ارمان دی چې زه دې خپل ګران هېواد افغانستان ته ستنه شم او د خپلو خلکو ترمينځ دې ځان احساس کړم خو لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده افغانستان کې فعلا وضعه داسې نه ده چې زه هلته لاړه شمه او په ځانګړې توګه د ډيوې ښځينه هنرمندې په توګه. په افغانستان کې چې کوم دوستان يا خپلوان لرو هغوی مور ته وايي چې ترڅو چې د امنيت حالات يو څه نبه شوي نه وي نو پام رانشئ

پوښتنه - چې افغانستان روغ شي او دلته امنيت او سوکالي وي نو بيا خو به هرڅوک افغانستان ته لاړ شي خو افغانستان په اوسنيو شرايطو کې ستاسو موجوديت ته اړتيا لري

نغمه - تاسې وګورئ .مور بايد دا خبره سره ومنو چې هنرمندان د نورو خلکو پرپرتله زيات حساس وي زيات يې زړه نازک وي چې په ګلونو او باغونو کې خوشحاله وي خو اوس که زه دغه افغانستان ته لاړه هم شم نو چې د خپل ګران افغانستان دغه ګنډوالي وګورم نو زړه به مې ورسره وچوي زه حيرانه يم چې اخر په دا ګل وطن ولې داسې وشول. د چا ستر ګو وخوړ. هغه چا څه نبه ويلي چې (چې کبر نه کړي نه خوارېږي. خاونده خدايه ما به کبر کړی وينه)

پوښتنه - ستاسې په فکر د افغانستان د ودانۍ په لار کې تر ټولو لوی خنډونه څه شی دي؟

نغمه - د افغانستان تر ټولو لويه ستونزه پرته له قانونه وسله او شخصي ملېشې او عسکر دي اوس هم په افغانستان کې ډېره زياته وسله موجوده ده. واړه هلکان وسله په لاس ليدل کېږي. له بده مرغه د ۲۵ کلنو جګړو له امله د خلکو اخلاق له منځه تللي دي. فقط د ټوپک په ژبه پوهېږي او د ټوپک په ژبه سره خبرې کوي تعليم نشته مکتبونه او لېسې له منځه تللي دي. هېواد اوس هم په بشپړ ډول د وسله والو په لاس کې دی او هغه خلک چې لوستي دي. دهېواد مينه او درد يې په زړه کې دی په بهر کې پراته دي او افغانستان ته يې شوقيان دي مسلکي هنرمندان هم نه دي .راپاڅې او غربي موسيقي زمور په دې سوچه او کلاسيکي موسيقي راګډوي او دوي ښکلا له مينځه وړي. دوی ولې په دې خبره نه پوهېږي چې د غرب د موسيقي برقي الات هېڅکله زمور د هارمونې او تبلې ځواب نشي ويلی ځکه چې زمور موسيقي په زړونو او غربي موسيقي په اعصابو اغيز کوي زه په دې ډېره خفه يم او نه يې خوښوم

پوښتنه - د پښتنو په اړه دا ويل کېږي چې دوی هنر سره مينه لري ولې هنرمندانو ته په درنه سترګه نه ګوري خو ستاسې په اړه بيا داسې نه ده خلک له تاسو سره هم ستاسو د هنر هومره مينه لري ددې څه لامل څه دی؟

نغمه - مور په ټولنه کې په خلک هم لرو او ناپوهه هم .زياتره هنرمندان دا ګيله لري چې ځينې پښتانه دوی ته د (دم) نوم ورکوي چې د پښتنو په کلتور کې يوه ډېره سپکه کلمه تللو ته زړه نشي نبه کولی

پوښتنه - بچيان مو څو دي او هغوی لپاره کوم ډول راتلونکی غوره کوئ او آيا هغوی هنر سره څه علاقه لري او که څنګه؟

نغمه - څلور بچيان لرم چې دوه يې لوڼې او دوه زامن دي. حقيقت دادی چې هغوی له هنر سره هېڅ علاقه نه لري خپل ښوونځي وايي او زما هم له زړه څخه دا ګوښښ دی چې نبه زده کړه پرې وکړم ولې چې هم دغه د افغانستان اينده ده او زه غواړم چې افغانستان ته يوه روښانه اينده ورکړم

پوښتنه - پښتو موسيقي کې نويو تجربو ته په کوم نظر ګورئ؟

نغمه - دغه نوې او بې ځايه تجربې پښتو موسيقي ته ډېر زيات زيان رسوي د افغانستان موسيقي په ټوله نړۍ کې د سوچه او کلاسيکي موسيقي په نوم پېژندل کېږي. خو يو شی چې هرڅومره سوچه وي که څوک پکې چټلي ګډوي نو اخر چټل شي. په امريکه او يورپ کې بهرنيان زمونږ پروګرامونه ډېر په خوند ګوري حالانکې په هغې کې يوازې تبله او باجه وي خو د خپل سوچه والي له امله په غيرو هم اثر لري خو له بده مرغه زمونږ هنرمندان چې زياتره

دومين جشنواره پنج روزه تياتر تابستانی ، از جانب پوهنځي هنرهای زيبای پوهنتون کابل ، در آن پوهنځي بتاريخ ۵ سنبله آغاز شد .

در اين جشنواره ۳۳ نمايش در اوقات مختلف توسط بيشتر از دوصد هنرپيشه افغان به شمول ۲۰ دختر و تعدای از هنرمندان تاجکی وفرانسوی به نمايش گذاشته خواهد شد .

پوهندوی محمد عظيم حسين زاده مسؤول ديپارتمنت تياتر پوهنځي هنرهای زيبای پوهنتون کابل در مورد گفت که ، در اين نمايشات هنرمندان ، مشکلات مردم وفرهنگ کشور را تمثيل خواهند کرد .

قرار معلومات وی ، درنمايشات ياد شده ، برعلاوه از چند هنرمند خارجی ، ۶۰ هنرمند از مرکز ۱۴۰ هنرمند از ولايات کندهار، بلخ ننگرهار، کندز، هرات خوست و بغلان سهم دارند . وی هدف از برگزاری اين جشنواره ، را احيای هنر تمثيل به

نمايشات تياتر درپوهنتون کابل آغاز شد

خصوص هنر تياتر ،تشويق وشناسايی هنرپيشه های تياتر در سطح ملی وبين المللی خواند .

اشرف غنی احمد زی رييس پوهنتون کابل ، اجرای اين نمايشات رامهم خواند ، به عقيده وی ، هنر تمثيل به خصوص تياتر ، نقش عمده را درايجاد وحدت با همی دريک کشور بازی می کند ، زيرا هنر تياتر فرهنگ مردم يک کشور را به نمايش می گذارد .

سيد مخدوم رهين وزير اطلاعات ،فرهنگ وتوريزم بر تقويه هنر تياتر تاييد نمود ، وی اظهار داشت که ، در سال های گذشته تياتر درافغانستان به انحطاط بی سابقه مواجه شد ه بودوبايد به هنرتياتر توجه بيشتر صورت گيرد . قرار معلومات حسين زاده ، مرکز کلتوری فرانسه ،جرمنی وايالات متحده امريکا دربرگزاری اين برنامه پوهنځي هنرهای زيبارا همکاری نموده است .

به گفته وی ، دراولين دور جشنواره تياتر ماه قوس سال ۱۳۸۳ حدود ۵۰ نمايش درشهر کابل ازطرف پوهنځي مذکور ، برگزارگرديده بود ..



لاس ته راوړي يو وخت و چې نه يوائې افغانستان کې بلکې په ګرده نړۍ کې افغاني هنرمندانو ته خلک سترګې په لار وو افغانستان يې د خپلو هنرمندانو په نوم پېژنده خو د غرب استعمار ګرو او د افغانستان نورو دښمنانو دا هڅه تاله ترغې کړل د ناشناس. وجيې .قمرګلې. فرهاد دريا او نورو غوندې د لوړې پايې هنرمندان له هېواد څخه خواره واره شول. افغانستان له داسې نظامونو تېر شوی چې فکر نه کوم فن او هنر دغلته هغې بيا په حال شي يا هنرمندان خلک هغې ومني

پوښتنه - تاسو په بهرنيو هېوادونو کې ترکومه حده دافغانستان نماينده ګي کړې ده ؟

نغمه - په نړۍ کې د يو ملت او ټولنې پېژندګلوي له هنرمندانو او ددوی له کلتور څخه کېږي. هند ته که وګورئ نو دلتا منګيشکر. رفيع . کشورکمار او د خپلو نورو هنرمندانو په نوم پېژندل کېږي او په بدل کې ورته خپل ولسونه پوره مينه او عقيدت هم ورپېرزو کوي خو له بده مرغه د افغانستان هنرمندان د خپلو خلکو د بدې وضعې له کبله په پردو هېوادونو کې در په در ګرځي زياتره داسې هم دي چې هنر ته يې مخه نبه ويلې ده او خپله خواري مزدوري کوي خومره چې زما خبره ده نو ما په امريکه کې هم خپل هنر او افغاني کلتور ژوندی ساتلی دی سره ددې چې دلته استوګن افغانان بيخې ماشيني ژوند کوي او ټول چلن يې په «های او بای» دی چا سره هېڅ وخت نه وي ولې مور خپلې هڅې نه دي پرېښې

پوښتنه - د ماتې هندارې په نوم ستاسو د شاعری يو کتاب هم راغلی دی نو دې خواته ته مو څنګه مخه وکړه؟

نغمه - د افغانستان دي ۲۵ کلنو ناخوالو زياتره افغان شاعران کړي او دغه درد زه هم نه يمه پرېښې د خپل وران ويجار هيواد لپاره د احساس کړي درد د اظهار لپاره ماسره له شاعری څخه غوره لاره بله نه وه او ماته داسې ښکاره کېده هم چې کنې ما کې د شعر ويلو صلاحيت شته

پوښتنه - دې کتاب باندې ستاسې نوم نغمه نه، شاپيرۍ وه آيا دا ستاسې خپل نوم دی؟

نغمه - هو نغمه زما خپل نوم نه دی. زما مور او پلار زما نوم شاپيرۍ ايښی و خو کله چې مې له هنر سره علاقه شوه نو لکه څنګه چې دستور دی ځانته مې د نغمې نوم غوره کړ او هم هغه وه چې نن ما خلک د شاپيرۍ پر ځای د نغمې په نوم پېژني

پوښتنه - په ټوله نړۍ کې دا دستور دی چې کله هنرمندان يو مقام ته ورسي نو له خپلو خلکو سره دمرستې لپاره دخپر ښيګڼې کارونه کوي. تاسو په دې لړ کې څه فعاليت کړی دی او يا يې کوئ ؟

نغمه - هو بلکل .زه په دې اړوند له خپلې ذمه واری څخه پوره خبره يم او له يو وخت راهيسې زه د خپلې ګټې وټې په دريوو کې دوه برخې د خپلو بې وزلو افغانانو وروټو خويندو سره په مرستو مصرفوم او يو اخې يوه برخه يې د خپل ځان او خپلو بچيو لپاره کاروم همدومره ده چې زه نه غواړم چې په دې اړه مشهورتيا وکړم او خلکو ته ځان ښکاره کړم. زه چې د چا لپاره دا کار کوم هغه يې ګوري او زما لپاره هم دومره اطمينان ډېر دی

پوښتنه - د مرکې په پای کې که خپلو وطنوالو ته يو څه پيغام ورکول غواړی؟

نغمه - پيغام زما همدا دی چې ټول افغانان دې د سولې لپاره کار وکړي. دبيا ودانۍ په کارونو کې دې تر ټولو وراندې شي . يو بل دې وښيي له تربګنيو او دښمنيو دې تېر شي له تعصبونو دې لاس واخلي او په راتلونکو پارلماني ټولټاکنو کې دې بشپړ ونډه واخلي

توريد وفروش قالينهاى ايرانى...

به گفته وی قالین های ماشینی ایران نخست وارد بازار هرات می شود و بعداً تاجران قالین را از این بازار خریداری نموده و به سایر ولایات می فرستند.

به گفته وکیل قالین فروشان در هرات از میان بیش از دوصد دوکان قالین ایرانی بیش از بیست دوکان به علت کاهش فروش این نوع قالین ها شغل خود را ازدست داده اند.

وی درادامه گفت که اکنون بیست نوع قالین ماشینی ایرانی بنام های ۳۵۰-۴۴۰ و ۵۰۰ شانه به اندازه های نُه تا هژده متره به افغانستان وارد می شود

بنا به اظهارات زرمتی به طور متوسط هر متر قالین ماشینی ایرانی اکنو ن دربازار هرات هفت صد وپنجاه افغانی به فروش می رسد که با این حساب به طور اوسط درسال گذشته بیش ازچهار ملیون و سه صد وبیست هزار دالر امریکایی واردات قالین ایران به افغانستان بوده است .

دراین میان حاجی عبدالغنی یکی از تاجران وارد کنند ه قالین های ایرانی می گوید :

((درمجموع با وجود اینکه واردات قالین خارجی به نفع مردم ما نیست وبا این کار اسعار خارجی ازکشور بیرون می شود اما درسال جاری به علت کاهش علاقه مردم به قالین ایرانی و نداشتن مشتری به قدر سال گذشته واردات خود را کاهش دادیم .))

درې بهرني مرستندويه ...

د سوله ساتو څواکونو لخوا د يوې خبر پاڼې په خپرولو سره د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د راتلونکو ټاکنو څخه مخکې ددغو وسلو لاس ته راوړل يو مهم قدم بللي.

ټاکل شوې ده چې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټاکنې د روانې مياشتې په ۲۷ مه نېټه ترسره شي.

بنګړيوالانې وا يي چې...

دوي وايي چې نارينه يې په کورونو کې دماشومانو کرارولو او نورو کورنيو کارونو دنده مخ ته وړي او ښځينه يې اړې دي چې دوي ته روزي وګټي

بنګړيوالان چې يو شمېر خلک ورته جټان وايې تر ۵۰۰ زياتې کورنۍ له کلونو راهيسې دهېواد دنورو سيمو په څېر جلال آباد کې هم مېشتې دي

۲۲ کلنه ليلا ، چې غنم رنګه غښتلې انجلۍ ده ، له ستهاره تر مازېګره د جلال آباد د بزازۍ څلورلارې ته څېرمه د آمانزاده مارکېټ مخې ته بنګړي خرڅوي وايي چې دوه نورې خوښدې يې اړې دپښور ښار په فردوس سيمه کې دا کسب کوي او مور يې دلېرې کليو په کوڅو کې لالهانده ګرځي.

ليلا پژواک ته ويلي چې له نيا نه ورته دا کار په ميراث پاتې دی او هېڅ پر مختګ يې پکې نه د کړې

دې زياته کړه : ((وړه وم چې دا بنګړي پلورل مې پيل کړي خو تر اوسه دکور خاوندان نه شو ورونه مې څلور دي موږ ډېر بد رواج لرو هغوي يوه پښه په بله اړولې کرار پراته دي موږ يې ورته ګتو.))

رېدې ګله وايې چې څو ځل يې مېړه ته دکار ويلي خو هغه ورسره نه ده منلې او ورته يې ويلي چې تر نورو وړه نه يې بايد ويې ګټي او رايې وړې.

که څه هم د بنګړيوالانو سړي خبريالانو سره خبرو ته په اسانۍ زړه نه ښه ګوي خود تورخم هډې شاته ددوي دخيمو په منځ کې ولاړو څو تنو ځوانانو چې دکرکټ په لوبه بوخت وو خپلې ستونزې ووېلې

دوی په يوه غږ وويل چې دوي هم افغانان دي دولت دې ورته دنورو خلکو په څېر کورونه ورکړي او دخيمو له ژوندې دې يې خلاص کړي.

بنګړيوالانې دجلال آباد ښار دبزازۍ کوڅې مخې او له دغه ځای څخه درمسال خواته غځېدلي سړک تر څنګ د زرګرانو او رخت پلورنځيو ددوکانو مخې ته ناستې دي دوکانداران وايي چې ددوی مخه يې بنده کړې او څوځله يې ترې ښاروالۍ ته شکايت کړی ددوه ورځو لپاره يې پاڅولې وې خو کومه نتيجه يې نه ده ورکړې.

که څه هم څو ځله دننګرهار دولتي راډيو تلوېزون دا خبرتيا خپره کړې چې د ځمکې په سر پلورونکو ته ځانګړي ځايونه په ګوته شوي خو چا هغو ځايونو ته دورتګ زړه نه دي کړي او ويلي يې دي چې پرته دښارله منځ څخه ددوی سودا نه کېږي

ښاروالۍ دپلتنې مدير اسمعيل وايي چې دوی څو ځله دا بنګړيوالانې له دې ځايونو په هوا کړي خو بيا يې سترګې شخې کړي او ناستې دي.

اسمعيل وايي : ((هره ورځ ورسره ښاروالۍ مامورين لاس او ګريوان وي خو نه کېږي ټول ښار همدا دسړک په سربنګړيوالانو او نورو پلورونکو تنګ کړي))

پاكستان له افغانستان سره ...

د پاکستان يو شمېر سياسي اقتصادي کتونکي اوسوداګرد هند لخوا له افغانستان سره دپاکستان له لارې په سوداګريزو اړيکو بيلابيل نظرونه لري

په اسلام آباد کې استوګن يو اقتصاد پوه عطاءالله يوسفزي ويلي چې هند نه افغانستان ته مرستندوي او سوداګريز سامانونه له يوې ستونزمنې او اوږدې لارې رسيږي چې ډېر زيات لګښت پرې راځي

ده زياته کړه ((هند دا مهال افغانستان ته صادروونکي توکي د ايران او دوبۍ له لارې لېږي چې لګښت او وخت پرې ډېر راځي.))

دده په وينا د هند صدر اعظم من موهن سنګهه به د کابل د سفر پر مهال له افغان چارواکو وغواړي چې پر پاکستان فشار راولي چې افغانستان ته د هندي سامانو وړلو ته هندوستان ته د ترانزيټ اسانتيا ورکړي))

دپاکستان يو سياسي کتونکي پروفيسور شاجهان وګړپال وايي چې هند په نړيوال مارکېټ کې لوړ مقام لري او دافغانستان په بازارونو کې دځای موندلو لپاره دوی ډېرې هلې ځلې کوي.

افغانستان ته يو مال صادروونکی سوداګر ګل رحمان وويل چې پاکستان بايد هند وستان ته اجاوه ورکړي چې د پاکستان له لارې خپل سوداګريز توکي افغانستان ته واړوي.

ده زياته کړه ((که پاکستان هندته افغانستان ته د مال اړولو ته د ټرانزيټ اسانتيا ورکړي نوله دې سره به د پاکستان او هند ترمينځه سوداګريزې اړيکې ودې وکړي.))

دهند لمړي وزير من موهن سنګهه پرون سهار کابل ته راورسېد چې ددولتي لوړ پوړو چارواکوله خوا يې تود هر کلي وشو.

دلښتي په سر شخړې...

ددوی په وينا چې قباد تيره شپه دخپل تره په کور ور اوښتي و خپل تره دتره ښځه او دتره زوی يې ووژل او دوه تنه نور يې تپيان کړل

په جلال آباد کې دعامې روغتيا روغتون دبيرنۍ څانګې موظف ډاکټر فريدالله خيبر ويلي چې د را وړل شويو دواړو تپيو ماشومانو روغتيايي حالت د انديښنې وړدی.

ده زياته کړه چې د تپيو ۱۲ کلن هلک ښی پښه يې پرې کړې هم ده

دوژل شويو يو خپلوان عبدالقيوم چې په جلال آباد کې دعامې روغتيا روغتون ته يې دظفر خان ۱۲ کلن زوی او ۱۰ کلنه لور راوستي وو پژواک خبرې آژانس ته ويلي چې قباد په نيمه شپه دظفر خان په کور ور برېد وکړ او نوموړي کسان يې ووژل ده زياته کړه چې پوليسو ته يې دشپې په دوه بجو خبر ورکړ خو هغوی دسهار په اوو بجو راغلل چې دا مهال قاتل له سيمې تښتيدلي و.

دننګرهار ولايت دامنيه قوماندانۍ جنايي مدير سمونوال غلام دستګير دپېښې دتايید پر مهال وويل چې دا شخصي خصومت و او کوم سياسي اړخ يې نه درلود.

ده وويل چې سيمې ته يې امنيتي ځواکونه ليږلي پېښه تر پلټنې لاندې ده خو تر اوسه څوک نه دي نيول شوي.

صدراعظم هند...

هند هم اکنون از جمله عمده ترین کشورهای کمک کننده بازسازی در افغانستان به شمار می رود. این کشور از سال ۲۰۰۲ میلادی تا حالا ۵۰۰ میلیون دالر به افغانستان متعهد شده است.

به علاوه هند از سال ۲۰۰۳ میلادی تا حالا در تربیت نیروهای پولیس و اردوی ملی نیز همکاری فعال داشته است.

بر اساس برنامه این سفر قرار است صدراعظم هند در مراسم افتتاح کار احداث تعمیر جدید برای پارلمان آینده افغانستان نیز اشتراک کند.

این ساختمان به کمک بیست و پنج میلیون دالری دولت هند احداث خواهد شد؛ موضوعی که کارشناسان افغان آن را کمک سمبولیک دولت هند به روند جاری سیاسی در افغانستان عنوان می کنند.

"سفر تاریخی"

کریم رحیمی سخنگوی ریاست جمهوری دیدار آقای سنگه از کابل را "یک سفر تاریخی" توصیف کرد و گفت که این سفر مناسبات دوستانه میان دو کشور را وارد مرحله جدیدی خواهد کرد.

آقای رحیمی گفت: "سفر صدراعظم هند به کابل از اهمیت خاص برخوردار است. حمایت دهلی نو از یک افغانستان با ثبات و دموکراتیک و تقویت روابط دوستانه میان دو کشور از جمله مسایل مورد بحث آقای سنگه با مقامات دولت افغانستان خواهد بود."

او افزود: "مسئله مبارزه علیه تروریزم نیز بخشی از صحبت ها را به خود اختصاص خواهد داد."

افغانستان و هند در طول تاریخ همواره مناسبات خوب با هم داشته اند اما این روابط در جریان حاکمیت رژیم طالبان در کشور فراز و فرودهای را تجربه کرده است.

هند از جمله کشورهای بود که تا فروپاشی رژیم طالبان آنان را به رسمیت نشناخت و همواره حمایت خود را از گروه های مخالف طالبان در افغانستان اعلام کرد.

یک مقام وزارت خارجه هند که در مورد سفر آقای سنگه به کابل سخن می گفت تاکید کرد که دولت هندوستان مصمم است همکاری های خود در زمینه نبرد با بقایای گروه طالبان در افغانستان را افزایش دهد.

قتل سه تن...

به گفته مردم محل این درگیری در دشت بدیع آباد زمانی بوقوع پیوست که منازعه میان حامیان خانواده های الله گل و قیوم اخندزاده از مشت و سیلی به استفاده چاقو و بم های دستی رسید.

قومندان وردک باشنده منطقه به آژانس خبری پژواک گفته است الله گل باشنده قریه راجایی دشت قریه در زیارت خانه اعمار نموده بود و برعلاوه ملکیت خود زمین های دیگر را نیز با دیوار احاطه نموده بود.

موصوف اضافه نمود که این عمل قهر خانواده قیوم اخندزاده قوم الکوزی بدیع آباد را برانگیخت که بعدا منجر به درگیری گردید.

قرار اظهارات نامبرده در این درگیری گل رؤف ریش سفید ۶۵ ساله و میرحاتم مربوط قوم الکوزی و همچنان یک تن از حامیان الله گل به قتل رسیده اند و ۱۸ تن دیگر از هردوطرف مجروح گردیده اند.

یک مقام امنیت ملی ولایت لغمان ضمن تایید درگیری به آژانس خبری پژواک گفته است که نیروهای امنیتی درگیری را خاموش و یک تعداد افراد را از هردو طرف بازداشت نموده اند.

وی افزود که مجروحین را به شفاخانه صحت عامه ولایت ننگرهار منتقل نموده اند.

شاه جهان داکترموظف در بخش جراحی شفاخانه صحت عامه ولایت ننگرهار گفت که چهار مجروح به شفاخانه انتقال داده شده اند که حالت صحی آنها نگران کننده بوده و در حال حاضر در بخش عاجل بستری اند.

میراجان ریش سفید و یک تن از مجروحین که درقسمت سر جراحت برداشته گفت که الله گل رهبر گروه آنها نیز مجروح شده که در پهلوی وی بستری میباشد.

زوم او څلور ...

ده وويل چې دا پېښه دګډو شويو تېلو له املهٔ رامنځته شوه او پرې يې پر هغو کسانو ور واچوله څوک چې ائتلافي ځواکونو ته تېل وړي او بيا تري څه برخه دتېلو پر پلورونکو پلوري.

دننګرهار دعامې روغتيا روغتون په جراحي څانګه کې ديو سوځېدلي پايواز حسين وويل چې دشپې لخوا ددېګونو دپخولو لپاره په لرګيو دپټرولو اچولو پر مهال اور ولګېد او دواده دزوم په شمول يې پنځه تنه وسوځول.

دروغتون دجراحي څانګې يو نوکريوال ډاکټر محمد نعيم وايي چې دوه تنه سوځېدلي يې رخصت کړي ددوو نورو حالت ښه خو ديو روغتيايي حالت داندېښنې وړ او دکوما په حال کې دی.

په داسې حال کې چې په دې وروستيو وختوکې په لسګونه سوځېدلي کسان ددې ګډ کړل شويو تېلو له لاملهٔ په روغتونونوکې بستر دي

يک کانديد...

بهين اين واقعه را تقبيح اما در مورد عاملين آن چيزی نگفت.

گفته ميشود که حاجی عتيق الله هنگام انتخابات رياست جمهوری مسؤول دفتر ساحوی انتخابات در ولايت ارزگان بود.قرار اخرين گزارش سخنگوی طالبان مسوولیت این قتل را بدوش گرفته است.

این درحالیست که چند روز قبل نیز یک کارمند دفتر مشترک تنظیم انتخابات در ولایت پکتیا طی یک حمله مسلحانه مجروح گردیده بود.

اختلاف در هرات يک کشته ...

سمونوال پيکار افزود که داماد گل احمد بخاطراصابت مرمی بر قفسه سينه اش تا انتقال به شفاخانه حوزوی هرات جان داد اما خانم گل احمد در اين شفاخانه بستری و تحت تداوی است.

به گفته مديرمبارزه با جرايم جنايی قوماندانی امنيه ولايت هرات گل احمد حين فرارازسوی نيروهای امنيتی با يک ميل کلاشنکوف دستگيرشده و قضيه تحت تحقيق وبررسی قراردارد.

وی علاوه کرد: ((هنوز هم سلاح در نزد تعداد زياد افراد غير مسؤول وجود دارد و همين موجوديت سلاح در نزد همچو افراد باعث قتل ها و نا امنی ها ميگردد.))

محمد نوريکی ازاقارب گل احمد گفت که مدتی بود که بين گل احمد ودامادش اختلافاتی به وجود آمده بود که درنتيجه منجر به وقوع اين واقعه شد اما وی در مورد اين اختلافات توضيح نداد.

اين دومين حادثه است که بخاطر اختلافات خانواده گی درهرات در ظرف يکشبانه روز گذشته رخ داده است.

به گفته سمونوال پيکار روز گذشته شير احمد ۳۲ ساله باشنده ناحيه دوم شهرهرات خياشنه ۲۸ ساله خود را با ضربات چاقو مجروح ساخت وپوليس نامبرده را بعد از اين واقعه دستگير نمود.

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجنیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی